بسم الله الرحمن الرحيم

ګڼه: (۴۲۷ج۱)

نېټه: ۱۲/ ۸/ ۱۴۴۳ هـ.ق

د رياست الوزراء محترم مقام ته!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

صحت او عافيت مو الله جل جلاله په نصيب کړه!

و بعد: ستاسو له خوا د لوړو زده کړو وزارت د رالېږل شوو د لومړي او دوه يم سمستر د نصابونو کتنه ترسره شوه ياد نصابونه زموږ له خوا منظور دي. البته لاندې ټکو ته بايد پاملرنه وشي:

۱- د شرعياتو په پوهنځي کې به اسلام ته ژمن، متعهد، مذهبي او وړ مسلکي علماء استادان وي.

۲- د جيدو مذهبي علماوو يوه کمېټه دې د پوهنتونونو د تدريس د څارنې لپاره وګمارل شي.

۳- په کتاب (اسلامي ثقافت) مضمون العقيده کې دې د زنديق د توبې حکم ور اضافه شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

شماره: (۴۲۷ج۱)

تاريخ: ۱۲/ ۸/ ۱۴۴۳ هـ.ق

به مقام محترم رياست الوزراء!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

الله جل جلاله صحت و عافيت را نصيب شما گرداند!

و بعد: نصاب‌های سمستر اول و دوم وزارت تحصيلات عالی که از طرف شما فرستاده شده بود، ملاحظه گرديد. نصاب‌های متذکره از طرف ما منظور است. البته به نکات ذيل بايد توجه شود:

۱- در پوهنځی شرعيات، علمای متعهد به اسلام، مذهبی و شايستهٔ مسلکی استاد خواهند بود.

۲- برای نظارت از تدريس پوهنتون‌ها يک کميته از علمای جيد مذهبی تعيين گردد.

۳- در کتاب (ثقافت اسلامی) مضمون العقيده، حکم توبه زنديق اضافه گردد.

۴- د یاد کتاب په مضمون الحدیث کې دې د حدیثو موضوع ور اضافه شي.

۵- د یاد کتاب د فقه العبادات د الوضوء په بحث کې دې د اودس د فرضیت تاریخ ور اضافه شي.

۶- د یاد کتاب د الاذان په بحث کې دې (ابتداء مشروعیة الاذان) ور اضافه شي.

۷- په یاد کتاب کې دې د (بیان حصر أهل السنة والجماعة في المذاهب الأربعة في العصر الحاضر) مضمون ور اضافه شي.

ځینې داسې جملې او کلمات مخې ته راغلل چې که چېرې تعدیل یا توضیح شي غوره به وي:

۱- د تجوید علم د زده کړې لپاره هڅونه چې لیکل شوي دي: (هر حرف له خپل مخرج څخه اداء کول پر هر مسلمان فرض دي)، که داسې تعدیل شي: د هرحرف اداء کول له خپل مخرج څخه د اداء کولو کوښښ پر هر مسلمان فرض دي، غوره به وي.

۴- در مضمون الحدیث کتاب متذکره موضوع احادیث اضافه گردد.

۵- در بحث وضوء فقه العبادات کتاب متذکره، تاریخ فرضیت وضوء اضافه گردد.

۶- در بحث الاذان کتاب متذکره (ابتداء مشروعیة الاذان) اضافه گردد.

۷- در کتاب متذکره مضمون (بیان حصر أهل السنة والجماعة في المذاهب الأربعة في العصر الحاضر) اضافه گردد.

بعضی از جملات و کلمات مشاهده شد که اگر تعدیل یا توضیح گردد بهتر خواهد بود:

۱- تشویق به فراگرفتن علم تجوید که نوشته شده است: (اداء نمودن هر حرف از مخرج خود بر هر مسلمان فرض است)، اگر چنین تعدیل شود: سعی اداء کردن به ادای هر حرف از مخرج آن بر هر مسلمان فرض است، بهتر خواهد بود.

۲- د فقه العبادات په موخوکې لیکل شوي: (د لمانځه او روژې اړوند مباحث تدریسېږي د لمانځه فرضونه، سنت، مستحبات)، چې د واجباتو یادونه نشته، خو په تفصیل کې بیا واجبات هم ذکر شوي، که په نوموړي پراګراف کې واجبات هم ورزیات شي، ښه به وي.

۳- په دوه یم سمستر کې د تفسیر مضمون چې په اړه یې لنډ معلومات لیکل شوي او په دوه یم پراګراف کې لیکي: (... جمله په جمله څېړي او ورځخه احکام او مسایل استخراجوی)، که دغه جمله داسې تعدیل شي: د حکمونو او مسایلو د استخراج طریقې فهموي، ښه به وي.

۴- په دیارلسمه اونۍ کې لیکي: (الأشیاء التي تفسد الصوم)، که د صوم پر ځای (العمرة، الحج) وای مناسب به وي؛ ځکه د الصوم بحث پخوا تېر شوی دی، همداسې کوچنۍ کوچنۍ املایي غلطۍ نورې هم شته چې باید توجه ورته وشي.

۲- در اهداف فقه العبادات نوشته شده: (مباحث مربوط به نماز و روزه تدریس می‌گردد، فرایض، سنت و مستحبات نماز)، که از واجبات یادآوری نشده؛ اما در تفصیل آن واجبات هم ذکر گردیده، اگر در پراگراف متذکره واجبات هم اضافه شود، بهتر خواهد بود.

۳- مضمون تفسیر در سمستر دوم که در مورد آن معلومات مختصر نوشته شده و در پراگراف دوم می‌نویسد: (... جمله به جمله تحقیق می‌کند و از آن احکام و مسایل استخراج می‌نماید.) اگر این جمله چنین تعدیل گردد: طرُق استخراج احکام و مسایل را می‌فهماند، بهتر خواهد بود.

۴- در هفتهٔ سیزدهم می‌نویسد: (الاشیاء التی تفسد الصوم)، اگر به جای صوم (العمرة، الحج) می‌بود مناسب خواهد بود؛ زیرا بحث الصوم قبلاً گذشته است. همچنین اشتباهات املایی کوچک، کوچک دیگر هم موجود است که باید به آن توجه شود.

پورته هدایت کې مو د علماوو نظرونـــه واخیستل چې زموږ له خوا تائید دي.

**والسلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

در هدایت فوق نظریات علما را اخـــذ نمودیم که از طرف ما تایید است.

**والسلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوی هبة الله اخندزاده**